شريعت

SHARIAT WEEKLY

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال اته شپېتمه گڼه پرله پسې (۲۵۸) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادي الثاني (٥) د ۱۳۷۸هـ ش کال د وږي دمياشتي (۲٤) د ۱۹۹۹ ميلادي کال د سېپتمبر (۱۵)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) ډېر نږدې دى تقوا (پرهيزگارى) ته. (سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د هيواد ستر روحاني شخصيت د نقشبنديه عاليه طريقې سجاده نشين محترم حضرت احمد امين جان مجددي له شريعت اوونيزې سره په مركه كې :

افغانستان د ټولو افغانانو گډ كور دى بايد ټول سره راټول او خپل ويجاړ وطن ودان كړو

هغه څه چې د افغانستان مومن ملت غوښتل الحمد لله د اسلامي امارت په ټينگښت سره نن هغه تر سره شوي دي

شريعت : قدرمنو لوستونكو!

لكه څرنگه چې خبر یاست د هيواد ستر روحاني شخصيت د نقشبنديه عاليه طريقې سجاده نشين محترم حضرت احمد امين جان مجددي په دې وروستيو وختو كې هيواد ته راستون شوى او په يو لړ علمي او ارشادي هڅو بې پيل كړې دي ژموږ خبريال له هغه محترم سره يوه په زړه پورې مركه كړې چې ستاسې قدرمنو پام ورته را اړوو :

پوښتنه : هيواد ته د خپل سفر د انگيزې په هكله كه لږ معلومات راكړئ مهرباني به مو وي !

ځواب : لكه څنگه چې ټولو هيواد والو ته معلومه ده كله چې په افغانستان كې د ثور توره او فاسقه كودتا وشوه نو د افغانستان ټول مومن ملت ته د سر او مال زيات زيانونه ورسيدل د نورو كورنيو په څېر زموږ كورنۍ ته هم ډېر ځاني او مالي زيانونه ورسيدل او د هجرت كلونه مو له نورو مهاجرو وروڼو سره په پاكستان كې وگالل دا چې نن د افغانستان د مومنو خلكو د غوښتنى نظام د افغانستان په

٤ مخ

شاغلي ولسن عضو تيم تحقيقاتي حقوق بشر سازمان ملل متحد در ملاقات با محترم سرپرست وزارت امور خارجه :

گزارشاتي كه تا بحال توسط هيئت ملل متحد در رابطه به مواد مخدر و نقض حقوق بشر در افغانستان نشر گرديده عاري از حقيقت است

محترم الحاج ملا محمد حسن آخند سرپرست وزارت امور خارجه قبل از ظهر ديروز در دفتر كارش شاغلي ولسن عضو تيم تحقيقات حقوق بشر سازمان ملل متحد كه اخيراً وارد كابل گرديده است ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : طي اين ملاقات ابتدا عضو تيم تحقيقات حقوق بشر سازمان ملل متحد هدف از سفر خود بكابل را تحقيقات موثق در رابطه به حقوق بشر اظهار نموده گفت: ما تلاش داريم تا با همكاري امارت اسلامي افغانستان گزارش دقيق در مورد حقوق بشر در افغانستان بدست آوريم كه متاسفانه تا بحال گزارشاتي كه توسط هيأت ملل متحد در رابطه به مواد مخدر و نقض حقوق بشر در افغانستان نشر گرديده عاري از حقيقت ميباشد.

بعداً محترم سرپرست وزارت امور خارجه ضمن اظهار خير مقدم به سفر هيأت متذكره به كابل گفت : امارت اسلامي افغانستان هميشه با هيأت و كارمندان سازمان ملل متحد همكاري همه جانبه نموده و تسهيلات لازم را جهت پيشبرد وظايف شان فراهم نموده است . امارت اسلامي افغانستان به تمام هيأت سازمان ملل متحد كه به افغانستان سفر نموده اند حقايق و واقعيت هاي عيني كشور را بيان نموده كه مورد تايید آنها نيز بوده است . مگر متاسفانه زمانيكه بمراجع مربوط شان برگشته از حقايق چشم پوشي نموده عليه امارت اسلامي تبليغات سوء و قضاوت يك جانبه مينمايند.

محترم سرپرست وزارت امور خارجه افزود : زنان در امارت اسلامي مطابق اصول و قوانين شرعي زنده گي با عفت داشته و لله الحمد با رعايت حجاب شرعي از تمام حقوق مستحقه خويش بر خوردار هستند .

د پوهنې وزارت محترم سرپرست

د پروان او كاپيسا ولايتونو له يو شمير عالمانو ، سپين ږيرو او مخورو سره وكتل

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي سيد غياث الدين آغا پرون د پروان او كاپيسا د ولايتونو له يو شمير عالمانو سپين ږيرو او مخورو سره وكتل او خبري بې ورسره وكړي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي د پوهنې وزارت محترم سرپرست له دغو اشخاصو سره د كتنې په ترڅ كې د علاقې وړ يو لړ موضوعگانو په باره كې خبري اترې وكړي.

وروسته د پروان او كاپيسا د ولايتونو دوو تنو مخورو محترم مولوي سيد اسحق مجددي او محترم عبدالخير متواضع د نورو په

ص ٤

تعمير رياست تعليم و تربيه ولايت ارزگان مجدداً احياء و مورد استفاده قرار گرفت

بتاسي از اقدامات عمراني امارت اسلامي افغانستان اخيراً تعمير رياست تعليم و تربيه ولايت ارزگان از بودجه انكشافي امارت اسلامي مجدداً احيا و مورد استفاده قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت ارزگان خبر ميدهد : تعمير متذكره كه طي دوران حاكميت رژيم هاي

ص ٤

در مربوطات ولسوالي جلريز ولايت ميدان وردك :

در ساحه پل محراب يك پل ترميم گرديد

با ترميم پل در ساحه پل محراب در مربوطات ولسوالي جلريز ولايت ميدان وردك تسهيلات زيادي براي عبور و مرور وسايط ترافيكي فراهم گرديده است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر

ص ٤

د ملگرو ملتو سازمان په ختيځ تيمور كې د خپل دفتر نمايندگي وتړله

د ملگرو ملتو سازمان پرون په ختيځ تيمور كې د خپل دفتر نمايندگي وتړله .

د نړيوالو خبري منابعو په وينا د ملگرو ملتو د سازمان د دفتر ټول كاركوونكي د ختيځ تيمور له مركز ديلي نه استراليا ته ليږدول شويدي.

سرچينې زياتوي چې په اوس وخت كې د ملگرو ملتو د سازمان كابو لس تنه كاركوونكي د ختيځ تيمور په بيلا بيلو برخو كې پاتې دي چې د حالاتو څارنه وكړي .

محترم مولوي عبدالرقيب سرپرست وزارت شهداء و مهاجرين :

عاليقدر امير المؤمنين طي فرمان خاصي سوم حصه عشر و زكوة را به بازمانده گان شهداء و معيوبين انقلاب اسلامي افغانستان تخصيص داده اند

عنقريب نشست نماينده گان جوانب سه گانه در رابطه به حل مسايل مهاجرين در شهر كابل داير خواهد گرديد

شريعت : علاقمندان گرامى ! بمنظور معلومات شما از فعاليت هاي وزارت شهداء و مهاجرين خبرنگار ما گفت و شنود كوتاهي را با سرپرست محترم آن وزارت انجام داده است كه خدمت تان تقديم ميگردد.

در ابتدا محترم سرپرست وزارت شهداء و مهاجرين خود را چنين معرفي نمودند : محمد عبدالرقيب ابن

ص ٤

بخش واكسيناسيون رياست صحت عامه ولايت جوزجان فعال و مورد استفاده قرار گرفت

بخش واكسيناسيون رياست صحت عامه ولايت جوزجان اخيراً به كمك مالي و تخنيكي اداره يونيسف و سازمان صحي جهان فعال و مورد استفاده قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت جوزجان خبر ميدهد: بخش متذكره كه طي دو سال اخير غير فعال بود اخيراً در اثر توجه مسؤولين ولايت جوزجان و

ص ٤

د فارياب ولايت د فوتبال د لوبو د تورنمنت لومړي پړاو پيل شو

د فارياب ولايت د بدني روزنې او سپورت د آمريت د الف . د گروپ د فتبال د لوبو د تورنمنت لومړي پړاو پرون د پنځو ټيمونو تر منځ د ليك په سيستم پيل شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي د فتبال په هغې لوبه كې چې پرون د فارياب ولايت د عامې روغتيا رياست او د خدمت د فتبال د ټيمونو تر منځ د ميمنې ښاروالي د پارك په ورزشي ډگر كې وشوه لوبه برابره پايته ورسيده .

دغو په زړه پوري لوبو د ننداري لپاره د امارتي دايرو ځينې چارواكي او دغه سپورت گڼ شمير مينه وال ورغلي و .

د فرانسې د بهرنيو چارو وزارت د يوې اعلاميې په ترڅ كې :

پنجشير ته د فرانسې د پارلمان د دوو تنو غړو سفر يو شخصي سفر وو

د فرانسې د بهرنيو چارو وزارت د يوې اعلاميې په ترڅ كې پنجشير ته د فرانسې د پارلمان د دوو تنو غړو وروستي سفر يو شخصي سفر بللى دى او ددغه هيواد حكومت ددغه سفر په باب بې خبري څرگنده كړېده.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د فرانسې د بهرنيو چارو وزارت ددغې اعلاميې په ترځ كې جرگنده كړه چې پنجشير ته ددغه هيواد د پارلمان د دوو غړو وروستي سفر يو خصوصي سفر دى او د فرانسې د دولت له مقاماتو سره له مشورې پرته شويدي.

په اعلاميه كې زياته شويده مور د پنجشير دري ته د دوو تنو فرانسوي اتباعو د سفر په باب خبر شوو دغه سفر په خپله د هغوي شخصي مسوليت دي او د فرانسې دولت په هيڅ صورت په دې سفر كې لاس نه لري.

توان اتومي اسرائيل براي امنيت جهان عرب تهديد شمرده ميشود

وزراي امور خارجه كشور هاي عضو اتحاديه عرب در پايان اجلاس دو روزه خود در قاهره ادامه سياست هاي توسعه طلبانه حكومت اسرائيل و كمك هاي مالي و تسليحاتي امريكا به آنكشور ابراز نگراني كردند . در جلسه مذكور سياست هاي اسرائيل در ادامه اشغال جنوب لبنان محكوم و

ص ٤

محترم احمد قيس "احمدي" ترينر كلپ جودوي خالد بن وليد :

ورزش را وسيله در هم كوبيدن ظالمان و دشمنان اسلام و وطن و كسب رضاي خداوند(ج) ميدانم

شريعت : خواننده گان عزيز!

خبرنگار ورزشي ما جهت معلومات بيشتر شما در مورد ورزش رزمي جودو گفتگوي مختصري با محترم احمد قيس «احمدي» ترينر كلپ جودو خالد بن وليد انجام داده كه توجه شما عزيزان را به خوانش آن معطوف ميداريم.

محترم ترينر كلپ جودو خالد بن وليد در آغاز خود را چنين معرفي نمودند : احمد قيس «احمدي» فرزند دوكتور محمد سرور مسكونه ولايت كابل ، فارغ التحصيل ليسه نادريه فعلاً عضو تيم ملي جودو كميته ملي المپيك و ترينر كلپ جودو خالد بن وليد ميباشم.

محترم احمدي طي پرسشي در مورد تاريخچه ورزش رزمي جودو در جهان و بالاخص در افغانستان چنين گفتند :

ورزش جودو در سال ۱۸۸۲ توسط شخصي بنام كانو در جاپان پايه گذاري شد و در آن زمان بود كه بنيان اين رشته ورزشي يعني اولين سالون تمرين جودو كودوكان را در سن ۲۲ سالگي افتتاح كرد .

در ماه مي سال ۱۹۰۹ كودوكان بصورت يك موسسه رسمي در آمد و در اوايل سال ۱۹۱۱ نيز انجمن داوندگان دان كودوكان كمر بند سياه تشكيل شد . كانون موفق شد كه در سال ۱۹۱۲ نه مرتبه به كشور هاي مختلف سفر كند تا اين رشته ورزشي را رونق بدهد ، جودو در يك دوره نسبتاً كوتاه در ميان مردم جاپان به شهرت رسيد.

جودو يكي از سيستم هاي معروف جاپان است و بيش از ۸۰۰۰۰۰ تن از مردم جاپان و بيش از سه مليون تن از مردم ساير نقاط جهان مصروف تمرينات جودو ميباشند.

موسسه جودو كودوكان در سال ۱۹۱۹ در شهر جاپان رسماً فدراسيون بين المللي خود را افتتاح نمود و در سال ۱۹۵۲ بيش از ٦٦ كشور اقدام به فعال ساختن فدراسيون جودو در كشور شان نمودند.

ورزش جودو در افغانستان براي اولين بار در سال ۱۳٦۳ توسط استاد امام جان و استاد نيكزاد ثبت و راجستر كميته ملي المپيك افغانستان گرديده است و در سال ۱۳٦٤ مسابقات انتخاباتي تيم ملي آغاز شد. و بعد از انتخابات تيم ملي، فدراسيون جودو افغانستان در بين ٤۲ كشور آسيايي خصوصاً جاپان كه مركز اصلي فدراسيون جودو در آن كشور ميباشد ثبت و

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د مخالفينو لخوا د نوي حكومت د اعلان انگيزې او پايلې

د رارسيدليو خبرونو له مخې د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفينو په منځونو كې د بې اتفاقۍ او يو په بل د نا باورۍ گراف ډېر لوړ ختلى دى او داسې ورځ به نه وي چې يو بل ته بې د توپ او ټوپك ، ميل اړولى نه وي چې په نتيجه كې بې د دوى افراد او په گڼ شمير ولسي خلك وژل كيږي . د مخالفينو په منځ كې دا اختلافات كومه نوې او له اټكل ليرې خبره نده ځكه چې د دوى يو ځاى والى طبعي نه بلكه د دوى د بهرنيو بادارانو د فشار په نتيجه كې منځته راغلى دى او بل دا چې دوى كوم داسې مقدس شعار او داعيه هم نلري چې د هغې لپاره دې دوى يو له بل سره نژدې وي او يو پر بل دې اعتماد وكړي همدا لامل دى چې هره ورځ بې له صفونو څخه خلك تېښتي حتى نږدې انديوالان او د سنگر ملگري بې هم ځان مصوون نه بولي.

۲ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : ملیار «کاکړ»

د بیې ګټې بیه : په هیواد کی (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : $\frac{4.385}{7}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

د رارسیدلیو خبرونو له مخی ویل کیږی چی د نظار شوری، جمعیت او د استاد سیاف د اتحاد د ګوند ډیر لوړ رتبه وګړیو د بیلا بیلو انګیزو له مخی د دوی صفونه پریښی دی او نورو هیوادونو ته تللی دی. او اوس استاد ربانی یې «جمعیته» او استاد سیاف یې له اتحاده پاتی دی او له دی دواړو سره یې د خپلی کورنی او څنو د ګوتو په شمیر ځان غوښتونکو افرادو پرته بل څوک نشته دی. اکثره سیاست پوهان په دی باور دی چی د اسلامی امارت د مخالفینو لخوا د نوی خیالی حکومت د اعلان ستره انګیزه د نورو انګیزو تر څنګ دا ده چی **د خیالی چوکیو په ویش او وعدو د خپلو افرادو د فرار مخه ونیسی په دی ترتیب چی په یو باندی به د رئیس جمهور او یا د وزیر نوم کیږدی او پری به یې خوش کړی په بل باندی به د معین او رئیس نوم کیږدی پری به یې خوشحاله ساتلی وی او د فرار مخه به یې ورته نیولی وی همدا راز دوی هڅه کوی چی په دی کار سره د دوی د خپلمنځی اختلافاتو مخه هم ونیسی او هغه شخصی رقابتونه هم کم کړی چی د جاه طلبی، د پیسو او د غلا د مال په ویش یې تر منځه را پیدا شویدی. همدا راز د اسلامی امارت د اردو سوبمن عملیات ددی لامل شویدی چی د اسلامی امارت مخالفین د تیرو له پامه** وغورځیږی او له یاده یې ووزی دوی اوس کوښښ کوی چی د حکومتونو په جوړولو او اعلانولو یو ځل بیا ځان مطرح کړی، د څه مودی لپاره یې په مطبوعاتو او رادیوګانو کی نوم واخستل شی او د نړیوالو پام ځانته راواړوی خو موږ باور لرو چی د دوی دا هڅی به هم د دوی د نورو ناکامو هڅو په څیر هسی د اوبو په سر نقش شی او هیڅ ګټوره نتیجه به تری تر لاسه نه کړی ځکه دا لومړی ځل نه دی چی دوی **حکومت جوړوی او یا کابینه اعلانوی، دوی د خپلو ناکامیو د پټولو لپاره مخکی هم څو څو ځله دا ډول هڅی کړی دی او څو « جلا مرکزه» حکومتونه یې اعلان کړیدی چی نه یې د جمهور رئیس دفتر معلوم شو نه یې چا د صدراعظم پستی ادرس ، د تیلفون نمبر، او د کار ځای پیدا کړ او نه یې هم د وزیرانو لپاره د وزارت کوم انګړ ومونډلی شو موږ باور لرو چی دوی په دی خیالی حکومتونو سره نه ځان مطرح کولی شی ، نه خپل بایللی حیثیت اعاده کولی شی ، نه د خپلو مورال بایللو افرادو د تیښتی مخه نیولی شی او نه پری خپل اختلافات را کمولی شی بلکه دا د هیواد د تجزیی په لور بوه منحوسه هڅه او د دوی د بهرنیو بادارانو د فرمایش په ځای کول دی چی لا به یې په ولس کی تجرید او منزوی کړی او له ملت سره به یې دا موجوده فاصله نوره هم ډیره شی چی حتی په خپله هم پری اعتراف کوی د بیلګی په ډول تیره شپه د دوی یو تن غړی له یوی ورځپانی سره په مرکه کی ویلی وو چی په فلانکی سیمه کی مو ټک او ټوک وکړ او طالبانو ته مو سردرد پیدا کړ د دوی دا وینا د دوی د وارخطایی او له ملت څخه د تجرید ثرګندوی ده ځکه که دوی په ملت کی ځای درلودی نو له ولس سره به په اباده کی اوسیدل او د هغوی همکاری به ورسره وه او دیته به څه ضرورت لیدل کیده چی د دوی په اصلاح له ټک او ټوک وروسته به غرونو ته ختل او هلته به یې هم په ځان پسی غرونه رانړول او داسی به هم نه کیدل چی په اکثرو ځایونو کی طالبان او موظف امنیتی کسان لا خبر نه وی او ولس نیولی او اسلامی امارت ته یې تسلیم کړی وی .**

زمونږ مشوره دا ده چی دوی باید له شرارت څخه لاس واخلی **نور ولس ونه ځوروی ، جنګ او جګړه پری تحمیل نه کړی حاکم امنیت او نافذ شریعت له ګواښ سره مخ نه کړی ځومره به ښه وه چی دوی هم د نور ولس په څیر آرام او هوسا او مطمین ژوند درلودلی دوی دی یو ځل په خپل ګریوان کی سر ښکته کړی خپل وجدان دی قاضی او دریمګړی کړی او بیا دی د ملت په وړاندی د خپلی جګړی او دښمنانه چلند نتایجو ته ځیر شی چی خپل وجدان بی څه فیصله کوی.**

میلمستیا

دا نژدی یو دود ګرځیدلی چی پوځی او سیاسی شخصیتونه خپلی خاطری کاږی دغه خاطری یا د تقاعد پر مهال لیکی او خپروی او یا هم له لویو ماموریتونو وروسته؛ لیری به نه ځو د ایران رضا شاه دوه کتابونه هر یو «ماموریت برای وطنم» او «انقلاب سفید» د خپلی واکمنی پر مهال کښلی او خپاره کړی دی داسی د فرانسې جنرال دوګول د دوهمی نړیوالی جګړی، خاطرات لیکلی او بینظیر بوتو هم د خپلو خاطرو یوه برخه خپره کړی ده.

د المان مارشال رومن چی د دښتی په کیدړ مشهور و هم د هغه جګړی ډیری پټی څنډی او د هتلر پر خلاف له کودتا او نورو رازونو پرده پورته کړی ده اوس اوس د افغان شخصیتونو د خاطرو لیکلو بازار هم ګرم شوی دی خدای بښلو عبدالحکیم طبیبی او سید قاسم رشتیا او داکتر حسن شرق پدی اړه څه لیکنی کړی البته امیر عبدالرحمن په تاج التواریخ کی د خپل ژوند، تبعید او واکمنی ډیری پیښی او پرمختګونه نغښتی او د یوه **ارځښتناک تاریخی اثر حیثیت یې خپل کړی دی.**

د پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه ځلویښت کلنه پادشاهی د دا ډول کیسو او خاطرو ششمنه پانګه ګڼل کیږی خو ده په دی اړه لا تر اوسه خوله پټه نیولی ، سره له دی چی د تیرو تنو او داسی نورو توروتنو سره مخ دی د هغی د سپیناوی له پاره یې هم څه نه دی کښلی .

ښاغلی ارغنداوی خو د خپل کتاب « ژوندی خاطری » لپاره یو څه غیږولی خو نوره یې ګنګه روژه نیولی ښایی هغه پدی اړه څه لیکلی هم وی خو غوره دا وچی د ده پر ژوند رابرسیره شوی وای .

د دوو تیرو لسیزو سیاسی او جنګی پهلوانانو هم ګونګه روژه نیولی او په دی اړه یی تر دی ګړی په خپلو خولو برغولی ایښی دی ښایی دوی لا له جګړو او خپلو ځانګړو ماموریتونو نه وی وزګار شوی که څه هم څه موده وړومبی ښاغلی حکمتیار یوه مرکه کړی وه چی ځینی پیښی او پرمختګونه یې راسپړلی وو خو اصلی او دراز خبری یې بشپړی نه دی را بر سیره کړی

حکمتیار صاحب په هغه مرکه کی ویلی و چی دی هغه مهال د صدراعظم په نوم کابل ته ورسید چی او به له ورځنه تیری وی او بیا نه د صدراعظم په توګه بلکی د کمونستو جنرالانو د میلمه په توګه یې هلته څو شپې واړولی.

ده په دغه مرکه کی له پاکستان ګیله کړی چی دو واره جنازی ته یې هم ویزه ورنه کړه خو له ایران نه پردی ممنون دی چی د اوسیدو ځای یې ورکړی خو پوښتنه دا ده چی پر حکمتیار صاحب ولی تری سور اورسوه، چی له ایران نه مازی په ځای ورکولو منتی ته اړ شوی دی .

د حکمتیار صاحب په مرکه کی دا خبره ډیره په زړه پوری ده چی دی هغه مهال کابل ته د صدراعظم په توګه ننوت چی او په له ورځنه تیری وی چی داسی وه نو بیا ددی څه اړه وه چی ده ښاغلو ربانی او مسعود ته د دوبیدو پر وخت په لاس ورکولو ځان هم ورسره ډوب کړ آخر دا صدارت ګنی دومره ده زړه وری و ؟ چی له ورځ نه د اوبو په تیریدو هم ده زړه تری نه صبریده .

راغلو د کمونستو جنرالانو میلمستیا ته چی صدراعظم پخپله پری اعتراف وکړ ، خو دا یی ونه ویل چی ددغه میلمستیا خوند څنګه و ؟ ښه شوه چی حکمتیار صاحب هم د کمونستو جنرالانو له میلمستیا یی برخی نشو کمونستو جنرالانو خو پدغو میلمستیاوو د ډیرو کورونه وران کړل د جمعیت اسلامی غوندی یو جهادی تنظیم یی په دغو میلمستیا یو پناه کړ د استاد ربانی غوندی یو مشر یی په ژوندونی د مرګ کومی ته ورکړ . دا ټول دد غو میلمستیاو کمال و دغو میلمستیا وو خو افغانستان ټوکر ، ټوکر کړ ، افغانان یی دربدر او خاوری پر سر کړل، خو یو کار یی وکړ، ډیر ستر کار هغه دا چی له مجاهدینو یی د شوروی پرغلګرو او خلق او پرچم د ماتی کسات واخیست، له افغان ولس نه یی د تیری کوونکو پر ضد د پاڅون غچ واخیست داسی یی وځپل دومره یی وزمولول **چی بیا ونه وایی چی افغانانو پیرنګی ته دری ځله ماتی ورکړی او شوروی اتحاد یی دړی وړی کړ .**

هغه څه چی شورویانو د جګړی په ډګر بایلودل کمونستو جنرالانو په میلمستیا وو **ورته وګټل، دغه میلمستیا وی ربانی، مسعود او حکمتیار نوش جان کړی خو په نس کی یی ټول افغانان په اور پاخه شول.**

پتې پاڼې

شعرت ننګیال

د تیری کوونکو انجام!

ژباړه : سهیل

کله چی په ۱۳۵۸ کال کی د روسی سور فوځ په افغانستان یرغل وکړ ، نو د دوهمی نړیوالی جګړی سوبی او غرور یې لا تر اوسه په ذهن کی چورلیده او په اصطلاح په « لویه ملی جګړه » کی یې نازی المان ته د ماتی ورکولو نشه له سر څخه نه وه وتلی. په همدی حال کی د افغانستان جهاد چی په پیل کی نړی د پټی جګړی په نوم یاله په کابل کی د مسکو د لاس پوځی رژیم په خلاف دوام درلود لاکن د اتیایمی لسیزی په مینځ کی دغه جګړه پټه نه وه او مسکو هم د افغانستان په هکله غلطیانی تکرارولی چی واشنګټن مخکی د ویتنام په جنګ کی کړی وی ورو ورو د روسیې فوځ د جګړی په داسی جبه زار **کی ډوب شو چی نه مخی ته تلی شو او نه شاته .**

په ابتدا کی سور فوځ فکر کاوچی مجاهدین عسکری روزنه نلری، د نظم او جنګی تاکتیکونو سره بلد نه دی لاکن د مجاهدینو ټینګ ایمان د مسکو ټول وړاند لیدونه غلط ثابت کړل او د سور فوځ روحیه ورځ په ورځ کمزوری کیده تر دی چی د ۱۹۸۹ کال د فبروری په ۱۵ نیټه نیمه خوا له افغانستان نه ووت دا هغه وخت و چی روسه نور نو په پخوانی حال نه وه د افغانانو جهاد د لسو کالونو په اوږدو کی د نړی یو زبرځواک په ګونډو کړ او هم یی کمونیستی سیستم ډری وری کړ کریملین وایی چی په افغانستان کی یې ۱۳۰۰۰ عسکری افراد له لاسه ورکړی او ۵۰۰۰۰ ټپی شوی دی خو تحلیل کوونکی وایی چی د وژل شویو شمیر ددی اندازی دوه چنده دی.

د افغانستان جهاد وښودله چی غرب باید هیڅکله په نظامی قوت غرور ونکړی. د سره فوځ صاحب منصبان او افراد چی په افغانستان کی د لسو کالونو په اوږدو کی موجود وو ، اوس په روسیه کی د ډول ډول روانی ناروغیو سره لاس او ګریوان دی.

ګلو شکو چی یو وخت یې په افغانستان کی په ٦٦ کندک کی وظیفه اجرا کوله وایی چی په ۱۹۸۷ کال کی د اپریل په ۱۷ نیټه مجاهدینو د دوی ته کمین نیولی وو ، او ډیر کسان یې ورځنی ووژل، کله چی د سور فوځ کندک د مجاهدینو د مقابلی توان په ځان کی ونه لید ، نو د کندک مشر چی مسلکین مخابره وکړه چی هوایی قوه د مجاهدینو مواضع بمبارد کړی او څمکنی ثقیله انداختونه دی پری وشی. د بمباری وروسته مجاهدینو عقب نشینی وکړه کله چی روسی فوځیان د مجاهدینو کمپ ته ورغلل ، هلته د اوبو د لوښو او د بسترو نه نور څه موجود نه وو پدی وخت کی د ګلوشکو د پښی لاندی څه شی د کړس کړس اواز وکړ او دی سره سم په یو لوی درز سره د ګلوشکو پښه یې والوزوله دده د ملګری میمانسکی پښه یې هم له مینځه یوړه ، مخ یې د بم په پارچو لاری لاری شوی ، سترګی یې ړندی . د دوی دواړو سره به د عمر تر پای پوری په افغانستان باندی د یرغل خاطری ملګری وی.

هغه شوروی اتحاد چی د ګوشکو په څیر عکسر د هغه لپاره جنګیدل ، په ۱۹۸۹ کال کی د ټوټی کیدو په حال کی و او کله چی روسی عسکر د افغانستان نه خپل هیواد ته ستانه شول، چا ورته هیڅ توجه ونکړه او ډیر ژر د خلکو نه هیر او غم ځپلي پاتي شول.

سیمانسکی د کراس نورکنتک ښار ته ستون شو دی وایی : دوه کاله می پخپل اپارتمان کی د زخمی ځاروی پشان تیر کړل، سیمانسکی زیاتوی یو ځلی می د خپلی سیمی دولتی اداری ته مراجعه وکړه تر څو هغه مادی امتیازات چی معمولاً د جګړی ګډون کوونکو ته یې ورکول، مانه هم راکړی خو هغوی راته وویل : « ته مو افغانستان ته نه یې لیږلی قسمت دی لیږلی یې » وروسته سیمانسکی ولیدل ډیر هغه مډالونه چی دده په افغانستان کی د خپلو ښو په قیمت ګټلی وو **هر سړی یې په ارزانه بیه په بازار کی اخستی شی.**

د سور فوځ یو بل عسکر ګودین ګاس کله چی روسی ته ستون شو تر دوو کلونو پوری یې روانی تکلیف درلود زیات شراب به یې څښل، نشه یې مواد به یې استعمالول او جګړی به یې کولی تر دی چی یوه شپه یې په ۱۹۹٤ کال کی یو سړی قتل کړ او جیل ته لاړ.

د افغانستان د جګړی روسی فوځیان کله چی د جګړی په پای کی خپل هیواد ته را ستانه شول نه یې له ځان سره غنیمت راوړی و نه جایزه نه عزت، نه وقار او ...

د افغانستان جهاد ځیلی افغانی کمونستان هم له ورته سرنوشت سره مخامخ دی هغوی چی یو وخت د پردیو په مټ د خپل فرهنګ او دین په خلاف وسله را اخیستی وه، نن په مسکو کی له اهانت نه ډک ژوند تیروی ددغو کمونستانو له جملی څخه یو محمد اکبر نومیږی . محمد اکبر په ۱۹٦۰ کال کی د روسیې د اورسیا په سیمه کی د راکټ انجنیری په ځانګه کی تعلیم بشپړ کړ په هغه وخت کی کریملین غوښتل چی په افغانستان کی تعلیم یافته کسان چی د مسکو ملاتړ وی، وروزی کله چی په افغانستان کی کمونستی، کودتا وشوه ، محمد اکبر یې تود هر کلی وکړ او کله چی بریژنف افغانستان ته سور فوځ ولیږه محمد اکبر بیا هم په جامو کی نه ځایده تر دی لس کاله محمد اکبر د افغان فوځ د ایدیالوژی په ځانګه کی کار وکړ او هڅه یې کوله چی صاحب منصبان او افراد قانع کړی چی سور فوځ د دوی د ملاتړ لپاره راغلی تر څو یوه ښه روښانه آینده ولری. هوکی! روښانه آینده! نن محمد اکبر پخپله د مسکو د ښار په څنډه کی په یوه وړوکی اپارتمان کی ژوند کوی دی بیا هم د نورو په نسبت ښه ژوند لری اکثر پخوانی کمونستان په ډیرو خرابو کورونو کی ژوند کوی **او حتی په یوه اطاق کی پنځه پنځه تنه پنډ شوی وی .**

محمد اکبر وایی کله چی د افغانستان نه روسیی ته راوتښتیدم نو ډیرو ملګرو می داسی سلوک راسره وکړل تا به ویلی چی هیڅ یې لیدلی نه یم د روسیی حکومت د افغانستان د جګړی د غورځل شویو ته په سیاسی پناه ورکولو قایل نه دی، زیات یې په غیر قانونی ډول په بازار کی د جوالیانو په توګه کار کوی ډیر لږ یې دوکانداری کوی.

ددغو افغانی کمونستانو له جملی څخه چی اوس په مسکو کی اوسیږی ، یو تن محمد صابر دی چی یو وخت په خاد کی جنرال و دی وایی « کله چی د روسی فوځ زموږ تورېخته څهره ووینی نو په لاره کی مو وهی او د اوسیدو د قانونی اسنادو د نه درلودلو په وجه مو جریمه کوی موږ د روسیی له حکومت نه نور هیڅ نه غواړو ، یوازی دغه غواړو چی قانونی حیثیت راکړی چی آزاد کار وکړو » اوس تقریباً ۱۲۰۰۰ افغانان په مسکو کی په یوه کمپ کی ژوند کوی چی هلته د عراق او کردستان نه راغلی کسان هم اوسیږی .

د ایکوی لیبر په نامه د فرانسی یوه خیراتی اداره د دوی کرایه او غذا تهیه کوی د روسی حکام غواړی چی اکثر دغه ډول افغانان له هیواد **نه وشړی خو د دوی بل پلو ته سترګی نه اوړی یو بل افغان کمونست چی اوس په مسکو کی اوسیږی وایی : موږ د روسانو سره څنګ په څنګ وجنګیدو خو اوس دوی موږ سره داسی برخورد کوی ته به وایی چی موږ سره هیڅ نلری » .**

د روسیی توری پیسی څنګه په امریکا کی «سپینی» شوی؟

ژباړه : م.س

که څوک باور کوی او که نه، لاکن حقیقت دا دی چی روسانو په زرګونو میلونه ډالره د امریکی په بانکونو کی اچولی او له هغه [عایه یی د نظر وړ ځایونو ته لیږی دا هغه پیسی دی چی د روسیی حکومت د عام المنفعه پروژو لپاره تخصیص کوی وی لاکن پدی هیواد کی د اداری فساد له امله نفوذ لرونکی مافیا غلا کړی او بیا دغه توری پیسی د نیویارک په بانک کی سپینی کړی دی.

د روسیی د مافیاو پیاند ولادمیر روسکوف وایی : « له پخوا راهیسی موږ خپلی توری پیسی په بانکونو کی « سپینوو » دوبلی سوتن په قول د پیسو ځای خو یوازی بانک وی!

کله چی روسکوف نه وپوښتل شول ولی تاسی پیسی « سپینوی » ؟ هغه وویل « اصلاً دغه پیسی زموږ نه وی خو کله چی یی « سپینی » کړو نو بیا وبلی شو چی زموږ دي هغه وخت چی په روسیه کي کمونستي نظام حاکم و زموږ معامله په روبلو وه، او چا پوښتنه نه کوله چی تور دی که سپین کله چی مو د هیواد د سر نه د کمونیزم سره پټاره وغورځیده، نو د روبلو په نسبت ډالر په زړه پوری راته ښکاره شول لاکن د امریکی بانکونو راته وویل چی نړی « پاکی » روپی قبلوی نه « خیرنی » بیایی مشوره راکړه او وعده یی وکړه چی هر څومره پیسی د دوی سره تفویض کړو نو راته « پاکی » او « سپینی » به یی کړی هغوی(امریکایی بانکونو) موږ ته مایکرو ویو تنوروونه او کافی برقی ماشینونه هم د تحفی په ډول راکړل روسکوف زیاته کړه « که سرمایه داری نظام په همدی ډول چلیږی نو موږ هم پدی کلب کی غړیتوب غواړو » کله چی ورنه پوښتنه وشوه چی ایا په روسیه کی ددی خیانت په هکله چا شکایت ونکړ ؟ هغه وویل : « څنګه څوک کولی شی چی شکایت وکړی.

موږ کومو بانکونو سره چی پیسی کریډټ کړی، هغه په نړی کی نفوذ لرونکی او ستر بانکونه دی ولی به څوک شکایت کوی، موږ خو کوم عادی بانک سره راکړه ورکړه نلرو !

کله چی د مافیا ویاند تشویش څرګند کړ چی نوموړی پیسی یی د امریکی د حکومت له خوا ضبط نشی نو مرکه کوونکی خیربال ورته وویل : « که چیری د تاسی هیواد کمونستی حکومت وی او موږ ته ددی هیواد نه پیسی راولیږی نو موږ په غیرګو لاسو د تاسی هر کلی کوو تاسی خو هغه څه کوی چی په غرب کی یی هر بلیونر غواړی تر سره کړی، یعنی پیسی پټی کړه په دواړو لاسو خو قانونی جامه ورواغونده بیه [illegible]!

ایدز
بلای عصر حاضر

٤

ترتیب کننده : وحید احمد«هارون»

اصولاً سیستم دفاعي وجود انسان میتواند اجسام خارجي، مانند ویروس، باکتري و دیگر مکروبهایي را که داخل وجود میشوند شناسایي کرده و از بین ببرد. به همین علت زماني که یکبار شخص مصاب مرض چیچك شود، در مقابل ویروس چیچك سیستم معافیتي وجود، پروتین هاي بخصوص را که بنام Antibody یاد میشوند تشکیل میدهد که براي همیشه در خون انسان مصاب شده به چیچك در گردش هستند و هر وقتیکه ویروس چیچك داخل عضویت میشود. به زودي از طرف این آنتي بادي ها از بین برده میشوند همین تاثیر محیرالعقول سیستم معافیتي وجود انسان است که مانع داخل شدن هزاران ویروس و دیگر مکروبهاي موجود در محیط زیست انسان به بدن انسان میشود. اما ویروس HIV با داشتن خصوصیات مشخص خود وقتیکه داخل وجود شخص میشود قشر پروتیني خارجي خود را به شکل که تا هنوز فهمیده نشده تغییر داده و خود را به شکلي در میآورد که سیستم دفاعي عضویت که در وقت داخل شدن ویروس HIV آن را احساس کرده است، نتواند ویروس را شناسایي کند. البته همین توانایي ویروس در تغییر دادن شکل خود و مختل ساختن سیستم معافیتي، تا کنون یك مانع بزرگي در سر راه ساختن یك واکسین و یا ادویه موثري بوده است براي متئن شدن شخص به HIV . این ویروس مجبور است از یك طریقي خود را به خون شخص برساند اما هنوز هم بسیاري موضوعات مربوط به این مرض در تاریکي ابهام باقي مانده اند ما هنوز بدرستي نمیدانیم چطور ویروس HIV مرض را بوجود میاورد بر علاوه دانسته نشده چرا یکتعداد افراد متئن به HIV به بسیار زودي اعراض و علایم مرض را ظاهر میسازند در حالیکه یکتعداد دیگر سالها پس از متئن شدن به ویروس HIV بدون کدام شکایت و مریضی به زندگي عادي خود ادامه میدهند بالاخره این نکته نیز مبهم است که آیا هر شخصي که در معرض تماس ویروس مذکور قرار میگیرد بالاخره مصاب مرض ایدز خواهد شد یا نه ؟

زماني که این ویروس داخل وجود انسان میشود هدف عمده آن غیر فعال ساختن حجرات لمفویست کمك کننده T4 یا T4- Lym- phoeytes helper cells میباشد قابل تذکر است که لمفوسیتها از جمله حجرات سفید خون هستند که دو نوع میباشند حجرات لمفویست نوع B و حجرات لمفویست نوع T وقتي که مکروب داخل عضویت انسان میشود حجرات نوع B به ساختن انتي بادیها آغاز کرده این انتي بادیها براي حراست و نگهداري وجود انسان مکروبرا تعقیب و از بین میبرند و حجرات نوع T وظیفه دارند این پروسه مغلق را کنترول نموده حجرات نوع B را فعال نگهدارند و هم بعضاً در تخریب مکروب یا جسم اجنبي کمك مینمایند. بدون موجودیت حجرات T4 وجود انسان به بسیار زودي به انواع مختلف امراض دچار خواهد شد حیثي که HIV این حجرات را تخریب مینماید، مکروبهاي متعددي که در دورو بر انسان وجود دارند داخل وجود شده و سبب مرض میشوند.

به هر اندازه که دانش بشري در مورد این مرض افزایش مي یابد سوالات در مورد آن نیز افزایش مي یابد ساینس دانان میخواهند بفهمند که ساختمان Genetic ویروس HIV چطور فعالیت هاي این ویروس را کنترول میکند و پوسه تکثري را و انقسام این ویروس چطور پیش میرود، تا شاید بتوانند از طریق انجنیري جنتیك رمز جنتیك ویروس را تغییر دهند علاوتاً دانشمندان در صدد دانستن این موضوع هستند که HIV چطور سیستم دفاعي بدن انسانرا غافلگیر کرده و به آن حمله مینماید زیرا در مرحله ابتدایي داخل شدن ویروس به وجود انسان انتي بادي بر علیه آن تولید میشود اما به علل هنوز نا شناخته شده این آنتي بادي ها ـ نمیتوانند ویروس را از بین ببرند آیا علت آن تغییر نا گهاني در ساختمان جنتیك خود ویروس است و یا علت دیگر وجود خواهد داشت که انتي بادیرا در مقابل ویروس بي تاثیر میسازد.

یکتعداد حجرات T4 در وجود اشخاص مبتلا به مرض دریافت شده اند که توسط HIV متئن نه گردیده اند که شاید بتوان روزي از این نوع حجرات براي ساختن واکسین استفاده کرد اما از تحقیقات دانشمندان معلوم میشود که سالهاي سال طول خواهد کشید تا چنین واکسیني که واقعاً مؤثر باشد ساخته میشود.

ادامه دارد

سفر نامه
از کابل تا تاشکند
دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان
در اجلاس گروه ۶+۲ منعقده تاشکند

۷

احمد ضیأ "شریفی"

محترم متقي در مورد کشته شدن ایراني ها در مزار شریف چنین گفت : قتل ایراني ها در مزار به امر مسؤولین امارت اسلامي افغانستان صورت نگرفته و در همان روز هیأت رهبري امارت اسلامي افغانستان اظهار تأثر عمیق خویش را مبني بر این حادثه اعلان نمودند و به تعقیب آن به عنوان حسن نیت به تعداد ۵۰ تن بندیان ایراني را آزاد نمود و در **مورد عاملین حادثه تحقیقات جدي آغاز گردید.**

همچنان در بیانیه رئیس هیأت امارت اسلامي از کشور هاي ۶+۲ تقاضا به عمل آمد که بالاي مخالفین ا.ا.ا فشار بیاورند که دیگر سرمایه هاي ملي مانند تونل سالنگ پل مستك، بنگي و غیره فابریکات را تخریب ننکنند و دیگر بالاي مردم عامه و مناطق مسکوني راکت فیر نه نمایند و نه در مناطق مسکوني و زراعتي ماین کشت نمایند.

۱۰- محترم رئیس هیأت در مورد روابط با همسایه ها در بیانیه اش چنین اظهار داشتند : ما خواهان روابط حسنه با تمام کشور ها میباشیم مدت زیاد میگردد که ما با پاکستان، ایران، ترکمنستان، ازبکستان و تاجکستان سرحد مشترك داریم و تا حال از جانب ما به کشور هاي متذکره زیان نرسیده و کسي اسناد و شواهدي هم در زمینه ندارد.

۱۱- رئیس هیأت امارت اسلامي افغانستان در مورد قطع نامه کنفرانس ۶+۲ منعقده تاشکند گفتند : ما با اکثر **مواد قطع نامه موافق مي باشیم ولي در بعضي مواد آن ملاحظات داریم که در این زمینه حاضر هستیم که مذاکره نمایيم.**

محترم ملا امیر خان «متقي» رئیس هیأت امارت اسلامي در اخیر از حاضرین اجلاس ۶+۲ تقاضا نمود که شما مي توانید از نزدیك حالات را در افغانستان ببیند و معلومات تان را از منابع خبري مغرض بدست نیاورید ما که در جهان بد معرفي شده ایم یگانه علت آن نشر راپور هاي غلط بعضي منابع خبري مغرض میباشد که متاسفانه که بعضي ادارات بین المللي هم به نشرات منابع متذکره اتکا مي نمایند. باید به تبلیغات سؤ و پروپاگندي که از جانب رسانه هاي گروهي مغرض علیه امارت اسلامي افغانستان صورت مي گیرد گوش داده نه شوْد بلکه خود به افغانستان سفر نموده و همه واقعیتها را خود به چشمان تان مشاهده نمایید.

محترم متقي که با زبان دیپلماتیك از ملاحظات در باره برخي از مواد اعلامیه تاشکند سخن گفته است بسیار به جاست ، زیرا مسایلي که مربوط به امارت اسلامي **افغانستان است باید قبلاً با امارت اسلامي مطرح میگردید، زیرا این امر ، مخالف نورمهاي پذیرفته شده بین المللي است که در مورد یك کشور تصمیم گرفته شود، ولي قبلاً نظریات آن کشور در آن مورد پرسیده نشده باشد.**

شاید از نظر روشهاي سیاسي ، همین که امارت اسلامي افغانستان قبل از طرح اعلامیه در جریان قرار نگرفته است یکي از نقطه هاي ضعف اعلامیه را تشکیل بدهد ولي اینکه کشور هاي همسایه موظف گردیده اند تا در داخل افغانستان سلاح نفرستند، نقطه خوب اعلامیه مي باشد.

یکي از نقاط ضعیف اعلامیه این بود که به عوض اینکه در اعلامیه نتیجه اجلاس به شکل ماده وار ترتیب میگردید زیاد تر به امارت اسلامي افغانستان اتهامات وارد نموده بود. که اتهامات آن نیز دور از واقعیت بوده و به اساس راپور هاي غلط بعضي منابع مغرض ترتیب گردیده بود.

پایان اجلاس ۶+۲ منعقده تاشکند

بیانیه متقي صاحب که به پایان رسید رشته صحبت را آقاي اخضر براهیمي در دست گرفت و گفت : ما سخنان هر دو جانب را شنیدیم هر دو جانب صلح مي **خواهند و حل معضله را از طریق نظامي ممکن نمي دانند جاي مسرت است و ما این را قدرداني مي نمایيم. اینکه طالبان با مخالفین خود حاضر به مذاکره هستند و در مورد حل قضیه دیپلومات ها حاضر به همکاري هستند خیلي خرسند هستیم.**

در همین جا یعني ساعت ۳:۵۰ دقیقه اجلاس ۶+۲ پایان یافت و آقاي اخضر براهیمي گفت ساعت ۵ عصر در سالون که در طبقه L قرار داشت که متاسفانه نام سالون را فراموش نمودم کنفرانس مطبوعاتي در مورد نتایج اجلاس ۶+۲ دایر مي گردد.

آگاهي از ملاقات با رئیس جمهور ازبکستان

تقریباً در لحظات اخیر کنفرانس بود که رئیس قونسلي وزارت امور خارجه ازبکستان آقاي ابلدارف نزدم آمد و گفت: آقاي کریموف حاضر است که با هیأت **امارت اسلامي افغانستان ملاقات نماید. ساعت ۶:۳۰ از اینجا حرکت مي نمایيم فاصله از هوتل الي مقر ریاست جمهوري یك ساعت را در بر میگیرد ساعت ۷:۳۰ دقیقه ملاقات آغاز مي گردد. من از وي در زمینه ملاقات با آقاي کریموف رئیس جمهور ازبکستان تشکر نمودم و موضوع را به اطلاع دیگر برادران شامل هیأت رساندم.**

از نظر امارت اسلامي افغانستان تفاهم با کشور هاي همجوار مخصوصاً ازبکستان در شمال یك امر مهم است مخصوصاً که افغانستان علاقه دارد تا **روابط تجارتي از طریق ازبکستان و از بندر حیرتان و ترمذ صورت بگیرد زیرا حیرتان مساعد ترین راه تجارتي براي کشور ما محسوب میگردد.**

ما همین اکنون مواد زیادي داریم که در بازار هاي بین المللي میتواند از طریق حیرتان - ترمذ عرضه گردد. بالمقابل ، مواد مورد ضرورت خود را از این طریق به آساني مي توانیم وارد کشور نمایيم.

مذاکره با آقاي اندر فورت

آقاي اندر فورت معاون وزارت خارجه، امریکا یك روز قبل توسط مهماندار ما آقاي نظام الدین عشمانوف عضو تشریفات وزارت خارجه ازبکستان درخواست ملاقات نموده بود من موضوع درخواست ملاقات آقاي اندرفورت را براي **تمام اعضاي هیأت گفتم و پذیرفته شد که در ختم اجلاس فردا با هم مي بینیم و من وقت ملاقات را به اطلاع مهماندار ما رسانیدم.**

زمانیکه جلسه بعد از ظهر ۶+۲ خاتمه پذیرفت من با هیأت وزارت خارجه امریکا در تماس شدم و محل و ساعت ملاقات را برایش گفتم.

ساعت ٤:۰۰ عصر روز ۱۹ جولاي در سالون بخارا که در منزل M جوار سکرتریت کنفرانس موقعیت داشت ملاقات با آقاي اندر فورت آغاز شد.

ملاقات با آقاي اندر فورت بسیار جالب بود زیرا آقاي اندر فورت تحت تأثیر تبلیغات سؤ برخي از رسانه هاي جمعي غرب و معلوماتي که از جانب مخالفین امارت اسلامي بدست آورده بودند ، یك برداشت اشتباه آمیز از طالبان داشت و در آغاز ملاقات طوري معلوم میشد که گویا امارت اسلامي افغانستان با پیروي از اسامه بن لادن با یك تعداد جریانهایي که علیه امریکا در کشور هاي عربي با آسیایي فعالیت دارند ، میخواهند مسایل سیاسي را احساساتي مطرح کنند در حالیکه پالیسي امارت اسلامي که منطبق به ارزشهاي اسلامي است هیچگاه در مسایل سیاست ملي یا بین المللي از روی احساسات برخورد نمي کنند؛ بلکه با منطق مسایل را تحلیل نموده یا هر جناحي که پرابلمي داشته باشد آنرا منطقي و مطابق ارزشهاي انساني با در نظر داشت مصالح ملي و منافع بشریت به شکل اسلامي حل مي کند.

به نظر ما مقامات امریکایي از معلوماتي که منابع متذکره در اختیار خبرگزاریها مي گذارند، باید درك کنند که **تحریکات ضد امریکایي از طرف کدام منابع و افراد صورت مي گیرد و آن منابع در کجا موقعیت دارند و آن افراد کیها اند ؟**

به هر حال آقاي اندر فورت در آغاز مذاکره در باره بیانیه آقاي کلنتن که در مورد تعذیرات اقتصادي بالاي افغانستان بود ، معلومات داد و به تعقب آن محترم متقي گفتگو را آغاز نمود که ما بعد قسمت آنرا به نشر میرسانیم.

ادامه دارد

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی باید ...

۹۵ فیصده خاوره کی حاکم شوی او انشاءالله نیږدی ده چی د افغانستان د مومنو خلکو ۲۲ کلن ارمان پوره شی نو ما هم د یوه افغان په حیث دا په خپل ځان فرض وګڼله چی د خپلو خلکو او خاوری خدمت وکړم.

پوښتنه: قدرمنه تاسو مخکی هم څو ځو واری افغانستان ته تشریف راوړی وو او اوس چی دلته اسلامی امارت یو سوچه اسلامی نظام راوستلی ده تاسی پخوانی او اوسنی وضع څنګه ارزیابی کوی؟

ځواب: څنګه چی مخکی می وویل الحمد لله دلته اوس یو اسلامی نظام حاکم دی او د خلکو سر و مال او ناموس په امن دی او که کله کوم مشکل مینځ ته راځی هغه د اسلامی اصولو په رڼا کی حل کیږی او اقتصادی ستونزی هم ورو ورو مخ په کمیدو دی.

پوښتنه: محترم مجددی صاحب! څرنګه چی مجددی روحانی او علمی کورنی د افغانستان په جهاد کی ستر رول درلود او د نظر او عمل خاوندان وو سیاسی کتونکی د افغانستان په اوسنی وضعه باندی بیل بیل نظرونه ورکوی ستاسو نظر په دی اړه څه دی؟

ځواب: ما په وار وار له راډیوګانو، ورځپاڼو او د جنګی ډلو له مشرانو سره دا خبره کړیده چی هغه څه چی د افغانستان مومن ملت غوښت هغه ارمان نن پوره شوی دی دا می مثال ورکړی دی چی د هر جهادی تنظیم په کارت کی به دا لیکلی و «په افغانستان کی شرعی نظام زموږ هدف دی» موږ اوس هغه هدف ته رسیدلی یو کوم دلیل د مخالفت لپاره نشته افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی نو باید ټول سره راټول او خپل ویجاړ کور بیرته له سره ودان کړو او د حل یوازنی لاره همدا ده.

پوښتنه: څرنګه چی تاسو له نورو ګڼو مصروفیتونو سره سره د نور المدارس الفاروقی جامعی مسولیت هم په غاړه لری که د هغی په اړه څه معلومات راکړی ښه به وی؟

ځواب: په نور المدارس کی د دینی علومو تر څنګ د عصری علومو زده کړه هم شته چی له لمړی ټولګی نه تر څوارلسم ټولګی پوری زده کونکی پکی زده کړه کوی او موږ هڅه کوو تر څو نور هم خپل نوی نسل په عصری علومو باندی ښکلی کړو د مثال په توګه کمپیوټر او نور داسی عصری فنون ور زده کړو اوس په نور المدارس کی ۵۹۵ تنه زده کوونکی زده کړه کوی چی ټول لیلیه دی او ۱۵۰ تنه هم نهاری په خپلو زده کړو بوخت دی.

پوښتنه: موږ داسی خبر تر لاسه کړی دی چی د دغی عالی مدرسی تر څنګ تاسو په نظر کی لری چی یوه بله ځانګه په کابل کی پرانیزی که د هغی په اړه څه رڼا واچوی؟

ځواب: ځانګی خو یی مخکی هم درلودی د هیواد په مختلفو ولایاتو کی خصوصاً د غزنی په ځینو ولسوالیو کی او اوس چی موږ یوه بله ځانګه فعاله کړی ده هغه د انوارالعلوم په نامه باندی یادیږی اوس چی الحمد لله پوره امن قایم دی نو په دی نیږدی ورځو کی موږ د هغه د ښښتڼ ډیره هم کیښوده او بل دا چی هیوادوالو ته به معلومات وی بله ځانګه یی چی د ضیا المدارس په نامه یادیږی او اوس په اعظم ورسک کی فعاله ده په دی نیږدی وختو کی به یی کابل ته را انتقال کړو تر څو هیوادوال په اسانی سره وکړای شی چی خپلی زده کړی سر ته ورسوی.

پوښتنه: په دی ورځو کی د جناب حضرت مولانا او مرشدنا نور المشایخ صاحب د عرس د اقامی شپی ورځی هم دی د هغه د ځای د اقامی په اړه تاسی څه نظر لری؟

ځواب: زه په دی هڅه کی یم چی په دی نیږدی ورځو کی د ټولو خلیفه صاحبانو په ګډون په قلعه جواد کی د عرس د جوړولو لپاره زمینه برابره کړم په دغه اړه مو له ځینو مخلصینو سره تماس هم نیولی دی.

پوښتنه: د هیواد په مرکز همدا شان په نورو ولایاتو کی د نقشبندیی عالیه طریقی ډیر متعلقین موجود دی هغوی ته څه توصیه کوی؟

ځواب: موږ خپلو د عالیه مجددیه معصومیه عمریه خلیفه صاحبانو ته دا هدایت کړی دی چی د افغانستان له مومن او مسلمان ملت سره چی اسلامی او پاکی لاری ته پوره عقیده لری له هغوی سره مرسته وکړی د هغوی په مینځ کی اتفاق او اتحاد راولی او متعلقینو ته مو دا توصیه ده چی د افغانستان له اسلامی امارت څخه هیڅ راز مرسته ونه سپموی ولی چی دا نظام زموږ د مبارکو شهیدانو د ارمانونو مطابق نظام دی.

پوښتنه: څرنګه چی په کابل او د هیواد په نورو برخو کی یو سلسله نوی خانقاوی او ځینی نوری طریقی را پیدا شوی په دی اړه د خپل نظر اظهار وکړی؟

ځواب: زه په دی نظر یم هر څوک چی **اسلامی او تصوفی لاره ونیسی او په دی لار کی خدمت وکړی د قدر وړ کار دی خو دوی باید هوښیار او ځیرک و اوسی هر کار چی کړی له شرعی اصولو څخه باید مخالف نه وی.**

پوښتنه: په اخر کی که تاسی د افغانستان رنځیدلی ملت ته کوم پیغام لری د شریعت اوونیزی صفحی ستاسو په خدمت کی دی.

ځواب: زه دوی ته بیا هم مبارکی ورکوم هغه نظام چی د افغانستان د مومن ولس آرزو وه او د هغی لپاره یی قربانی ورکړی وی هغه نن د خدای«ج» په مرسته پوره شوی دی دوی باید د دغه قانون او نظام پوره مرسته وکړی ځکه دا دی افغانستان له سوچه، مومنو او مجاهدو وګړو جوړ شوی نظام دی.

محمد رفیق «عزت»

در مربوطات ولسوالي ...

میدهد: پل متذکره که با ثر توجه مسؤولین ولایت میدان وردك و همکاري مالي و تخنیکي موسسه همبستگي اخیراً بطور پخته و اساسي ترمیم گردیده تسهیلات زیادي را براي وسایط ترانسپورتي در مسیر راه کابل و شمال فراهم نموده است.

بخش واکسیناسیون ...

همکاري مالي و تخنیکي اداره یونیسف و سازمان صحي جهان مجدداً فعال و مورد استفاده قرار گرفت. با فعال شدن این بخش سهولت هاي لازم جهت واکسین اطفال که سن شان کمتر از دو سال باشد در مقابل شش مرض کشنده فراهم گردیده است.

یك منبع مسؤول به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت: والدین محترم میتوانند که اطفال شانرا که سن شان کمتر از دو سال باشد همه روزه جهت واکسین در مقابل شش مرض کشنده دوره طفولیت به مراکز ثابت و اکسپناسیون در آن ولایت برده و وقایه نمایند.

توان اتومي اسرائیل ...

تقبیح گردید و وزراي امور خارجه کشور هاي عربي تاکید کردند که توان اتومي اسرائیل براي امنیت ملي جهان عرب تهدیدي شمرده میشود و باید تحت نظارت مستقیم آژانس بین المللي انرژي اتومي قرار گیرد.

در جلسه مذکور همچنان نگراني جهان عرب در مورد ادامه همکاري نظامي میان ترکیه و اسرائیل ابراز گردیده و از ترکیه خواسته شد تا در مورد اینگونه همکاریها تجدید نظر کند.

د پوهنې وزارت ...

نمایندګي د اسلامي امارت د لوړو هدفونو په عملي کولو او په خپلو اړوندو سیمو کي د الهي حکمونو د لا ریات تطبیق په لاره کي خپل بشپړ ملاتړ او پیوستون څرګند کړ.

تعمیر ریاست تعلیم ...

گذشته قسماً تخریب و از استفاده خارج گردیده بود اخیراً بتاسي از اقدامات عمراني امارت اسلامي افغانستان مصرف مبلغ هشتصد ملیون افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي طي سال روان مجدداً احیاء و مورد استفاده قرار گرفت.

محترم مولوي عبدالرقیب ...

مخدوم عبدالباري ابن مولانا عبدالرشید مرحوم از ولایت تخار ولسوالي کلفگان

محترم مولوي عبدالرقیب در رابطه به شیوه کار شان چنین معلومات دادند: به ورثه شهداء و یتیمهاي انقلاب اسلامي افغانستان قانون و لایحه ترتیب و به شکل منظم فند مقرر است که حقوق شان داده میشود و همین طریقه کار جریان دارد به **قدر توان وزارت شهداء و مهاجرین به ورثه شهداء و یتیمها و معیوبین و معلولین در مرکز کشور و ولایات کمکها میکنند هر روز مصروف کار اند.**

علاوه از این عالیقدر امیر المومنین **به اساس فرمان خاص در سطح کشور سوم حصه عشر و زکوة را بخاطر کمك به ورثه شهداء، یتیمها و معیوبین بازمانده گان انقلاب اسلامي معین گردانیده اند که بشکل منظم کار ها به معقولیت تحت ارزیابي بهتر روان میباشد.**

محترم سرپرست وزارت شهدآء و مهاجرین در مورد مساعدت کشور ها و مؤسسات خیریه به این وزارت چنین گفتند: از طرف کشور ها قدریکه حق ملت مظلوم ماست و فند براي آنها معین شده امانت نمي رسد بعضي کشور هاي اسلامي کمك کمتر نموده اند و وعده ها هم داده اند.

محترم سرپرست وزارت شهداء و مهاجرین در مورد سفر اخیر شان به پاکستان چنین معلومات ارائه نمودند: قبل از این سفر رسمي با مقامات عالي رتبه امارت اسلامي به پاکستان دو مرتبه در باره حل پرابلم هاي مهاجرین به آن کشور سفر داشتم که در نتیجه کمیسیون سه جانبه قبلاً براي حل مشکلات مهاجرین پروتوکول شده بود و در چند سال قبلي معطل شده بود چند ماه قبل بار دیگر احیاء گردید و موضوعات رفع ضروریات مهاجرین و آماده گي به بازگشت مهاجرین به وطن شان تحت غور قرار داده شده است که کمیسیون در جریان است تا گفته نماند که کمیسیون متشکل از وزارت شهداء، و مهاجرین و حکومت پاکستان و UNHCR (کمشنري ملل متحد) میباشد و در این سفر رسمي هم با مقامات پاکستاني تجدید نظر در باره یافتن راه حل **و سهولت ها در عودت مهاجرین صحبت صورت گرفت که مسایل زراعت، صحت، تعمیر، ماین پاکي و غیره ضروریات شان تحت غور میباشد و در ماه جاري ان شاء الله کمیسیون سه جانبه در کابل هم مجلس دارند و جوانب مشترك آماده‌گي همکاري و کمکها در این رابطه دارند.**

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

ورزش را وسیله در هم کوبیدن ظالمان و ...

راجستر شده است.

بعد از مسابقات سال ۱۳٦٤ تعداد زیادي جوانان به این ورزش علاقمند شدند بعد از آن استادان زیادي از این رشته به درجات عالي نایل گردیده اند. در جریان جنگهاي چهار ساله رژیم قبلي ورزشکاران ما نتوانستند به ورزش خود ادامه بدهند در سال ۱۳۷۲ بعد از انتخاب رئیس فدراسیون مسابقات انتخاباتي تیم ملي استاد محمد هارون به حیث ترینر تیم ملي انتخاب شد و تا فعلاً خوشبختانه فدراسیون فعال و مسابقات انتخاباتي تیم ملي جوانان و نوجوانان طبق پروگرام کمیته ملي المپیك دایر میگردد.

محترم احمد قیس احمدي در پاسخ به این سوال که شما ورزش جودو را در کدام سال، تحت نظر کدام استاد و در کدام کلپ آغاز نمودید و ضمناً فعلاً دارنده کدام نوع کمر بند در این رشته میباشید و مشوق شما در این رشته رزمي کي بود؟ چنین اظهار داشتند

از سال ۱۳۷۲ بدین سو به ورزش رزمي جودو رو آورده ام و تمرینات خود را تحت نظر استاد هارون، بعداً استاد سهیل، وحید الله و استاد ذکریا در کلپ عارف شهید و سپس در کلپ المپیك به پیش بردم. و مشوقم در این رشته مامایم محترم داکتر خالد سعیدزي میباشد.

زمانیکه از وي پرسیده شد که در کلپ خالد بن ولید به چه تعداد شاگردان مصروف تمرین جودو مي باشند چنین اظهار داشتند: مجموعاً تعداد شاگردان به ۱۵ تن میرسد. وقتي از وي پرسیدم چرا تعداد شاگردان این ورزش رزمي کم است وي چنین استدلال نمود: در زمان تسلط کمونیست ها در افغانستان این ورزش رزمي را دستگاه بدنام خاد منحصر به افراد خود نموده بود. تا اینکه در سال ۱۳۷۲ توسط استاد هارون کلپ آزاد جودو بنام عارف شهید تأسیس شد بناً مردم ما به قدر کافي به این ورزش رزمي بلدیت ندارند و خیلي متشکرم از شما که زمینه را مساعد نمودید تا طي این مصاحبه ورزش رزمي جودو را طور مختصر معرفي نمودم.

محترم احمدي در پاسخ به سوال دیگر ما که آیا عصریه تیم ملي جودو از طرف کمیته ملي المپیك براي ورزشکاران پرداخته مي شود و یا خیر چنین گفتند: بلي! تمرینات جودو مطابق نورم معین شده تحت نظر سرترینر تیم ملي منظم پیش برده مي شود و به همین ترتیب عصریه نیز از طرف کمیته ملي المپیك براي ما پرداخته میشود.

محترم احمد قیس «احمدي» در اخیر پیامش را به دیگر جوانان که مصروف تمرینات رشته هاي مختلف ورزش خصوصاً ورزش رزمي مي باشند چنین اظهار داشتند: یك ورزشکار باید داراي اخلاق اسلامي و سپورتي باشد و ورزش را وسیله، براي کسب رضاي خداوند«ج» و در هم کوبیدن ظالمان و دشمنان اسلام و وطن و دفاع از مظلومان قرار دهد.

یك ورزشکار خوب در هر رشته که باشد از باخت خود در مسابقات مایوس نشود و باید کوشش نماید تا در آینده خلا هاي که در باخت آن موجود بوده آن را پر نماید تا در مسابقات خوبتر بدرخشد و نتایج عالي بدست آورد تا در آینده افتخارات را به نفع خود و کشورش در سطح ملي و بین المللي به ارمغان بیاورد.

ابو زلال

تبصره

اظهارات «رادیکا» از بیان حقایق و واقعیت ها مبرأ بود

قراریکه جهانیان و ملت مجاهد افغان مطلع هستند اخیراً سازمان ملل متحد، خانم رادیکا کما را سوامي را که یکتن از کارمندان آن سازمان است بمنظور بررسي حقوق زنان به کابل اعزام داشته بود، خانم مذکور که معلوم نیست کجا را دید؟ یا کي دید؟ و چه دید؟ بعد از بازگشت از افغانستان در جمع خبرنگاران در اسلام آباد اظهاراتي در مورد وضع زنان در کابل بر زبان راند که با حقایق و واقعیت هاي موجود در افغانستان صد فیصد در مغایرت بوده و کاملاً مخالف خواسته ها و حالات فعلي زنان افغان بوده و شخصیت خانم رادیکا را به عنوان یك محقق بی طرف و واقعاً بشر دوست شدیداً لطمه دار ساخت. همچنان خانم مذکور در جریان سخنانش از چوکات اخلاق دیپلوماسي و انساني نیز عدول نموده و با سفاهت بر مقدسات اسلامي ملت مسلمان افغان تاخته است که باید متوجه اقوال و اظهارات خود مي بود؟!!

خانم رادیکا ادعا مي کند که سیاست رسمي تبعیض علیه زنان در افغانستان بکار میرود، این قول خانم خیلي قابل تحیر است مگر اینکه زنان افغان هیچ ارتباطي با مردان افغانستان ندارد مگر آنها نه مادران کسي اند، نه خواهران، نه دختران و نه زنان که از سیاست تبعیضي در مقابل شان کار گرفته شود!! آیا منطقي است که قبول گردد انساني با کسي که یا مادر یا خواهر یا خانم و یا دخترش است از تبعیض کار بگیرد؟ خیلي نا سنجیده است این ادعا! اي کاش که خانم رادیکا سنجیده اتهام می بست!! از فحوا و آغاز کلام خانم مذکور واضح میگردد که موصوف قبل از ورود به کابل از جانب حلقه هاي مخصوصي یاد داشت هاي ضروري با خود داشته و هنگام بازگشت از کابل آنرا ثبت اسناد رسمي خویش ساخته و بر مبناي آن لب به سخن کشوده است!!

جاي بس تعجب است که این آقایون ناظر حقوق بشر با دیدن مخروبه هاي کابل و شنیدن داستان جنایات اداره ائتلافي رباني اظهار تأثر و تأسف بي مثال نموده و از اوضاع فعلي و صلح و امنیت شهر کابل ابراز رضایت و سرور مینمایند اما زمانیکه از افغانستان خارج میگردند بیانات شان با احساسات قبلي آنها در تضاد واقع میگردد، معلوم است که آنها حق و صلاحیت اظهار چشم دید ها و حقایق را نداشته و به خوانش نوشته هاي از قبل تهیه شده مجبور مي گردند!! اگر چنین نیست چرا آنها در پهلوي به اصطلاح آنها زیاده روي ها، تحولات مثبتي را که همه جهانیان آگاه از آن واقف و به آن قانع اند، در راپور خویش نمي گنجانند، که فقط از انتقاد و اتهام یاد آور مي شوند این چنین روش ناظران حقوق بشر مبین این حقیقت است که آنها در قبال سفر هاي خویش اهداف دیگري داشته و براي تسریع تعاند حلقه هاي خاص مخالف امارت اسلامي افغانستان در سطح بین المللي معاونت نموده و به اصطلاح دلایل جمع آوري مینمایند.

اگر این حلقات مدافع حقوق بشر واقعاً در غم بشریت اند همین اکنون بیش از دو ملیون مهاجر ما در پاکستان را به کدام دلایل از کمك هاي بشردوستانه غذایي، صحي، تعلیمي و اجتماعي محروم ساخته و از احوال آنها هیچ با خبر نمیگردند؛ اگر محض مسئله حقوق زن و بشر است مگر در این دو ملیون مهاجر هیچ زني نیست که مورد ملاطفت این حلقات قرار گرفته و بدون موجودیت کدام مانع با آنها مساعدت نمایند؟ چه نوع بشر دوستي است که از صد ها هزار زن و طفل افغان در کمك هاي مهاجرت یادي هم نمي نمایند اما از حقوق زنان شهر کابل به اصطلاح دفاع مینمایند؟ شاید خانم رادیکا به این پرسش جواب بگوید اینکه بعضي کشور ها از یك جانب ادعاي بشر دوستي دارند و از جانب دیگر تحریمات اقتصادي را بر ملت ما تحمیل نموده و به شمول اطفال و پیر مردان، زنان افغانستان را به گرسنگي فقر، مرض و مصیبت مي کشاند، در این مسئله بار احساس بشر دوستي آنها به کدام اوقیانوس کوچ مي کند و در این رابطه چرا حساسات بشر دوستي آنها جریحه دار نمیگردد؟ تعجب فراوان در این رابطه نیز به خاطر ها ظهور مینماید که همین حلقات بین المللي مدافع حقوق بشر براي آنانیکه در پنجشیر به سر مي برند اعلام جمع آوري مساعدت مینمایند مگر با همان مهاجرین منطقه شمالي که در کابل، پلخمري و یا کندز شب و روز سپري مینمایند حتي ابراز همدردي هم نمي‌نمایند چه رسد به آنکه برایشان چیزي امداد نمایند.

همین اکنونکه سالانه ده ها هزار زن در کشور هاي مختلفه ظالمانه کشته مي شوند، به عفت شان تجاوز صورت میگیرد و در کار خانه ها و مزارع مورد بهره برداري قرار میگیرند، بطور نمونه صرف در هند سالانه بیش از بیست و پنج هزار زن از باعث فشار هاي جنسي خود کشي مي نمایند، این مدافعین حقوق زن در مورد آن زنان چرا خاموش مانده و چرا بر حکومات آنها فشار وارد نمي نمایند که فقط هر ماه و هر ربع بر علیه امارت اسلامي افغانستان راپور تهیه نموده و سیل تبلیغات زهر آگین را براه مي اندازند؟

خانم رادیکا باید اندك به عکس العمل مهاجرین افغان در کمپ هاي پاکستان و در داخل افغانستان توجه نموده و از خود بپرسد که آن زنان چرا خود شان از سیاست هاي امارت اسلامي افغانستان شکایت و گیله نمي نمایند و چرا وقتاً فوقتاً آنها حمایت شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز مي دارند؟ اگر آنها خود چیزي مي گفتند، حق بود تا خانم رادیکا نیز با آنها هم صدا میگردید!!

شاید خانم رادیکا هنگام اظهارات اخیرش بعضي حلقات را مسرور ساخته باشد اما احساسات ملت مجاهد افغان را بدون شك شدیداً جریحه دار ساخت. از نظر ما تمام این ادعا ها و اتهامات از جانب اداراتي که بمنظور تضعیف موقف بین المللي امارت اسلامي افغانستان در سطح جهاني توظیف گردیده اند براه انداخته شده و جهانیان آزاد را از روشني حقایق و جریانات واقعي افغانستان به تاریکي کشانیده و احساسات جهانیان را بر ضد ما تحریك مینمایند ما متیقن هستیم که انشاء الله روزي حقایق و واقعیت ها جایگزین اتهامات و افترآت گردیده و مخالفان منطقوي و بین المللي امارت اسلامي افغانستان روسیاه و نادم خواهند گشت.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press